UNAMA

OHCHR

# په افغانستان کی د ښځی پر وړاندی د تاوتریخوالی د منع د قانون تطبیق اوږده لار په مخ کی لری

**کابل، د ۲۰۱۱ کال د نومبر۲۳ نیټه** – په هغه راپور کی چی نن خپور شو، په افغانستان کی د ملګرو ملتونو مرستندویه پلاوی (یوناما) او بشری حقونو لپاره د ملګرو ملتونو د عالی کمیشنر دفتر  داسی وایی چی د افغانو ښځو د مساوات او د دوی د حقونو څخه د ملاتړ په موخه هغه قانون چی دوه کاله وړاندی نافذه شوی تر اوسه پوری هم د عدلی او د قانون پلي کوونکو چارواکو له خوا ځای ځای تطبیق کیږی او حکومت په دی نه دی بریالی شوی چی د ښځو په وړاندی د تاوتریخوالی په ډیرو قضیو کی دغه قانون په بشپړه توګه عملی کړی.

ناوی پیلی د بشری حقونو لپاره د ملګرو ملتونو عالی کمیشنره وایې: "د افغانستان په زیاتو برخو کی، خو متاسفانه د ښځو په وړاندی د تاوتریخوالی په ډیرو لږو قضیو کی، د قاضیانو، څارنوالانو او پولیسو له خوا د دی قانون عملی کیدل یو مثبت ګام او پرمختګ دی." آغلی پیلی زیاته کړه: "سره د دی چی د دی قانون تطبیق په ښکاره ډول د پراخیدو په حال کی دی خو بیا هم مخکی له دی چی د تاوتریخوالی څخه د افغانو ښځو پوره ساتنه وشی او د دی قانون د پلی کولو له لاری د هغوی مساوات تضمین شی یوه ډیره اوږده لار پرته ده."

د ښځی پر وړاندی د تاوتریخوالی د منع په قانون کی، چی د ۲۰۰۹ کال په اګست کی نافذ شوی، د ماشومانو نجونو ودول، جبري ودونه، د واده په منظور یا بهانه د ښځی پیرل یا پلورل، په بدو کی ورکول ځان سوځونی ته مجبورول او د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي ۱۷ نور عملونه، د جنسی تجاوز او د وهلو ټکولو په ګډون، د جرم په توګه پیژندل شوی. د دی اعمالو د مرتکبینو لپاره مجازات هم په دی قانون کی مشخص شوي دي.

د ملګروملتونو راپور "په مخکی اوږده پرته لار: په افغانستان کی د ښځی پر وړاندی د تاوتریخوالی د منع د قانون تطبیق" ومومندله چی د ۲۰۱ کال د مارچ څخه د ۲۰۱۱ کال تر مارچ په موده کی د دی قانون په تطبیق کی هم مثبت پرمختګونه او هم ځینی نیمګړتیاوی شتون لری.

دغه راپورد یوناما/د بشری حقونو لپاره د ملګرو ملتونو د عالی کمشنر دفتر د نظارت پر بنسټ ولاړ دی چی د ښځو په وړاندی د تاوتریخوالی له دیرو قضیو څخه تر سره کړی او د هغو مرکو له مخی جوړ شوی چی د قضایی، پولیس او دولتی چارواکو سره ترسره شوی دی. دغه راپور د قضایی او د قانون د پلی کوونکو چارواکو له خوا د ښځې پر وړاندی د تاوتریخوالی د منع د قانون د تطبیق په اړه هغه معلومات او شمیری تحلیلوی چی د دی قانون د پلی کیدو د لومړی کال (د ۲۰۱۰ د مارچ د ۲۱ څخه د ۲۰۱۱ د مارچ تر ۲۰) په موده او دی نه وروسته د شپږو میاشتو په اوږدو کی د افغانستان له ۳۱ ولایتونو څخه راټول شوی دی.

دغه راپور د دی یادونه کوی چی په افغانستان کې د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي د شکایتونو په اړه هر اړخیزې رسمی احصایي نشته او ډیرې پیښی له راپورنو څخه پاتې کیږي. د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کمیسیون د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي ۲۲۹۹ پیښی ثبت کړي دي چی د دی قانون له مخی جرم ګڼل کیږی. که د پیښو موجود شمیره د اساس په څېر قبوله کړو، ملګروملتونو د بشری حقونو چارواکو دا ومومندله چې په ۲۸ ولایتونو کی د ټولو ۲۲۹۹ پیښو له جملی څخه ۲۶ سلنه (۵۹۴ قضی) د څارنوالانو له خوا ثبتې شوی، ۷ سلنه یی (۱۵۵ قضیی) محاکمو ته سپارل شوی، او یوازی ۴ سلنی (۱۰۱ قضیی) په ابتداییه محاکمو کی د ښځی پر وړاندی د تاوتریخوالی د منع د قانون په اساس فیصله شوی.

ښاغلی ستفان دیمیستورا د ملګرو ملتونو د سرمنشی ځانګړی استازی او د یوناما دفتر مشر وویل: "په ځینو ولایتونو کی د عدلی سکتور له خوا د ښځو په وړاندی د تاوتریخوالی د منع د قانون تطبیق هڅوونکی دی خو بیا هم تر عدلی او قضایی تعقیب لاندی د قضیو کموالی دا ښیی چی د عدلی او قضایی نظام چارواکو، جګ پوړی دولتی چارواکی او نورو له خوا جدی او ګدو هڅو ته لا هم اړتیا شته تر څو قضایی او سیمییز چارواکی دی ته وهڅوی چی د ښځو په وړاندی د تاوتریخوالی په ټولو قضیو کی دغه قانون تطبیق کړی." ښاغلی دیمیستورا زیاته کړه: "د تیرو لسو کلونو په جریان کی د افغانو ښځو د وضعی پرمختګ، د دی په شمول چی ۳۸ سلنه ښوونځیو ته لاس رسی لری، ۶۹ تنه په

پارلمان کی حضور لری او حتی دا چی یو شمیر ښځو د الوتکو د پیلوټان وړتیا هم تر لاسه کړي، د دی قانون د نامنظم تطبیق له امله کمزوره کیږی."

په ۱۷ ولایتونو کی څارنوالانو د ښځو پر وړاندی د تاوتریخوالی د منع د قانون له مخی د پیښو په وړاندی د دعوی اقامه کړی دی. د ښځی پر وړاندی د تاوتریخوالی د منع د قانون له مخی د ۶۸ قضیو په ثبتولو او د ۳۵ قضیو په رسیدگی سره د هرات ولایت په هیواد کی د ټولو نه مخکښ ولایت پیژندل شوی. د ښځو په وړاندې د تاوتریخوالي سره د مبارزی لپاره اختصاصی څارنوالی په کابل کی شاوخوا د ټول هیواد نیمایی قضیی ثبتی کړی دی (د کابل څخه د رارسیدلی ۲۸۵ قضیو برسیره ۴۷ قضیی د ۱۹ نورو ولایتونو څخه رارسیدلی دی). سره د دی دیر لږ شمیر قضیی محاکمو ته راجع شوی دی، د ۲۰۱۰ کال د مارچ څخه د ۲۰۱۱ تر مارچ پوری دغه اختصاصی څارنوالی یوازی ۲۱ قضیی د کابل محاکمو ته سپارلی دی.

دغه راپور دا موندلی ده چی د افغان ښځو په وړاندی د تاوتریخوالی ډیری قضیی، د جدی جرمونو په شمول چی باید تر عدلی تعقیب لاندی ونیول شی، بیرته اخیستل کیزی او یا منځګړیتوب ته سپارل کیږی. د ملګروملتونو د بشری حقونو چارواکی دا موندلی چې د ښځې پر وړاندی د تاوتریخوالي د منع د قانون له مخی د قتل ځینی قضیی او نور جدی جرمونه د دی پر ځای چی د یاد شوی قانون په اساس تعقیب شی د جزا د قانون او یا د شریعت د قانون له مخی تر عدلی تعقیب لاندی نیول شوی دی چی په پایله کی یی ځینی وخت مجرمینو برائت حاصل کړی، د دوی اتهام ټیټ او په عادی جرمونو متهم شوي، د دوی مجازات کم شوي او یا هم ښځینه قربانیانی په "خلاقی جرمونو" تورنی شوی دی. دغه راپور دا هم موندلی چی په ډیرو سیمو کی پولیس او څارنوالان اوس هم د ښځو په وړاندی د تاوتریخوالی ډیری قضیی د لانجو د هوارولو هغه دودیز میکانیزومونو ته سپاری چی نه قانون تطبیق کوی او نه هم د ښځو حقونه ساتی.

د کورني تاوتريخوالي زيات شمير شکایتونه د پولیسو د کورنی غبرګون څانګی، د ښځو چارو د ریاست، د افغانستان د بشری حقونو خپلواک کمیسیون او د ښځو په وړاندی د تاوتریخوالی سره د مبارزی لپاره د اختصاصی څارنوالی له خوا د منځګړیتوب د لارې حل شوي دي او ډیر لږ شمیر قضیی تر عدلی تعقیب لاندی نیول شوی دی. که څه هم چی شکایت کوونکی ښځی ځینی وخت منځګړیتوب ته ترجیح ورکوی خو بیا هم دغه راپور موندلی ده چی چارواکی تل پر ښځو باندی فشار اچوی چی خپل شکایت بیرته واخلی او یا هم منځګړیتوب انتخاب کړی.

په دی راپورکی ویل شوی چی د ښځی په وړاندی د تاوتریخوالی د منع ولایتی کمیسیونونه هڅې کوي چې خپلې دندې سرته ورسوي او د والیانو، د ښځو چارو وزارت او نورو حکومتي ارګانونونه د لازیات ملاتړ او مرستو ته اړتیا لری. د ۲۸ ولایتی کمیسیونو له جملی څخه چی د دی قانون له انفاذ څخه راهیسی جوړ شوی یوازی ۱۶ کمیسیونونه فعال او خپلی غونډې دایروی.

جورجیت ګنیان د یوناما د بشری حقونو د څانګی مشره وایی : "تر څو پوری چی د ښځو په وړاندی تاوتریخوالی روان دی او د معافیت فرهنګ د دوی بشری حقونه تر پښو لاندی کوی په افغانستان کی د ښځو د حقونو په اړه ښی او اغیزمنی لاس ته راوړنی به ډیرې کمی وي." آغلی ګنیان زیاته کړه: "د افغان ښځو د حقونو لکه د سولی او پخلاینی د پروسی په شمولی په عامه ژوند کی برخه اخیستنه او د زده کړی او کار مساوی فرصتونه څخه ډاډمن کیدل باید یوازی د حقوقی ساتندویه تدبیرونو په بڼه پر کاغذ باندی نه وی بلکه د ښځو په وړاندی د تاوتریخوالی د منع قانون هم باید په جدی توګه او په چټکی سره تطبیق شی."

د ښځی په وړاندی د تاوتریخوالی د منع د قانون د ښه تطبیق لپاره یوناما او د بشری حقونو لپاره د ملګروملتونو د عالی کمیشنر دفتر له خوا د افغانستان حکومت او نړیوالو همکارانو ته د ۳۲ سپارښتنو وړاندیز شوی. په دغو سپارښتنو کی د دی وړاندیز هم شوی چی د ښځو، نارینه وو او په ټولو کچو کی د دولت په منځ کی د دی قانون په هکله پوهاوی زیاته شی او؛ د ستری محکمی، د کورنیو چارو وزات او لویی څارنوالی له خوا هدایت صادر شی چی ټول مسؤولین دغه قانون په سمه، اغیزمنه او چټکی سره عملی کړی؛ او د دی قانون د تطبیق د څرنګوالی په هکله پولیسو، څارنوالانو او قاضیانو ته روزنه ورکړل شی. دغه راپور پر نړیوالو تمویلوونکو باندی غږ کوی چی د افغانستان د ښځو لپاره د عمل ملی پلان (۲۰۱۸-۲۰۰۸) او "د قانون او عدالت د ټولو لپاره" د پروګرامونو څخه پوره ملاتړ او هغه تمویل کړی.

**د راپور څخه ځینی نمونی**

د ښځو په وړاندی د تاوتریخوالی د منع د قانون د تطبیق مثالونه:

د هرات ولایت څارنوالانو د ښځي پر وړاندی د تاوتریخوالي د منع د قانون ۲۲ ماده او د جزا د قانون ۳۹۵ ماده تطبیق کړې چي له مخي یې د دووه ګوني قتل قضیه تعقیب کړې. دوه خویندې ۱۵ او ۱۷ کلني د هرات ولایت د کرخ په ولسوالی کي د د ۱۳۸۹ په چنګاښ (د ۲۰۱۰ په جولاي) کی قتل شوې. د راپور له مخي ۱۷ کلني نجلۍ د دې څخه انکار درلود چي د هغه شخص سره چي کورنی ورته غوره کړی وو واده وکړي. پنځوو تنو د هغي د راتلونکي میره د خپلوانو او دوو نورو کسانو په شمول پر دوي برید وکړ او په کور کي یې ووژلې. پولیسو دغه ۵ تنه د ۱۳۸۹ کال د تلې (د ۲۰۱۰ کال د اکتوبر) په میاشت ونیول. د استنیاف محکمي وروسته دري تنه خوشي کړل خو د دوو نورو لپاره چي یو یې د وژل شوې نجلۍ کیدونکی میره او بل یې خسر و په ۱۶ کلونو زندان محکوم کړل.

د ۱۳۹۰ کال د وری (د ۲۰۱۱ د مارچ) په میاشت د جوزجان په ولایت کي، د ولسوالی محکمي د افغان ملي پوځ یو پخواني سرتیري بدلمنی ته د خپلي ښځي د اړ کولو په خاطر مجرم وشمیرو (۱۸ ماده). تپي او ناتوانه پخواني سرتیري د کرایي په بدل کي د هغوي د کور د خاوند سره د جنسي رابطي د نیولو لپاره خپلي ښځي ته ویلي وو. د نوموړې ښځي د دې خبرې څخه انکار کړی او قضیه یې درج کړې ده. د ښځي میره په خپله کړنه اعتراف کړی او د محکمي له خوا په دریو کلونو بند محکوم شوي؛ د استیناف محکمي د مجازاتو حکم ۷ کلونو ته لوړ کړی.

د ۱۳۸۰ د کب (د ۲۰۱۱ د مارچ) په میاشت یوه ښځه د خپلی لور د جبری ځان وژنی ته د اړ باسلو راپور پولیسو د کورني غبرګون څانګي ته ورکړ. د نجلۍ کورنی خپله لور د ۲۵ کلنی په عمر د ۳۰۰۰۰۰ افغانیو (۶۶۰۰ امریکایي ډالرو معادل) په بدل کي ورکړې. د نجلی مور وایي چي د نجلۍ خسرګنی په دوامداره توګه نوموړې نجلی سرزنش کړې. "ستا مور او پلار زموږ څخه ډیرې پیسي اخیستي دي، ته اوس مجبوره یې چي دغه پیسي موږ ته بیرته د خلکو په کورونو کي د کار کولو له لارې راکړې." په پای کي، د ۱۳۸۹ د غبرګولي په میاشت کي (۲۰۱۱ فبروری) د ۱۰ کلن واده نه وروسته، د نجلۍ کورنی نوموړې نجلی ته وویل چي هغه باید د دریو نارینه وو سره څوک چي د کورنی څخه لیدنه کوي جنسي اړیکه ونیسي. یوه میاشت وروسته، نوموړې ښځي په خپله خونه کي خپل ځان ته اور واچاوه. نوموړې به تل ویل چي یوه ورځ به خپل ځان ته اور واچوي. د نجلۍ مور وویل: "ما به هغي ته ویل چي له ځانه زغم ښکاره کړه، دا ژوند دی او یوه ورځ به ښه روښانه راتلونکي ولرې". پولیسو د ښځي د مور شکایت درج کړ خو د څیړني په موخه یې هیڅ اقدام نه دی ترسره کړی. د ښځي پر وړاندی د تاوتریخوالي د منع قانون لارښوونه کوي چي اجباري ځان سوځونه د یو شمیر جرمونو له جملي څخه شمیرل کیږي چي د شکایت کوونکي د نه شتون سربیره هم باید د پولیسو او څارنوالانو له خوا تعقیب شي.

په دایکندی کی چارواکو د ښځی په وړاندی د تاوتریخوالی په جدی قضیو کی د حل دودیز میکانیزمونه کارولی دی. په دی قضیه کی یو نارینه خپله ښینه د ۲۰۱۰ کال د نومبر په ۲۱ څو څو واری په چاړه وهلی. هغه ښځه ژوندی پاتی شوی وه په روغتون کی بستری شوه او پولیسو مجرم ونیوه. خو یو څو ورځی وروسته چارواکو وویل چی دغه قضیه د غیر رسمی عدلی سیستم له لاری د تولنی د مشرانو په مرسته حل شوه. د دوی حل د هغه سری له خوا دا وعده یا تعهد و چی هغه به خپله ښینه آرامه پریږدی. څارنوال له مسؤولیت اخیستلو څخه انکار وکړی او پړه یی پر پولیسو واچوله چی هغوی دا قضیه محلی مشرانو ته استولی ده.